رحمت آریا

۲۰۱۷/۱۱/۰۵

د افغانستان بیا موندل شوې پانګې
د افغانستان لرغونې څېره

دوهمه برخه :

په تېر پسې ...

پېژندنه

پې یر کامبان،

د ګیمي د آسیایي هنرونو د ملي لرغونتون عمومي سرپرست

که د ستر الکساندر لښکري یون ته په یوه پراخ انځور کې وګورو نو افغانستان هغه وروستۍ کرښه وه چې د ستر الکساندر د پرېکړې پر بنسټ به له دغې کرښې پورې غاړه نور په فارسیانو پسې نه ځي. د اکسوس سیند ، چې نن د آمو دریاب په نامه یادېږي، د نامتمدنو بېدیا مېشتو وګړو تر منځ د بېلوالي کرښه جوړوله. د دې ترڅنګ دغه سیند د لرغوني باختر پوله هم ټاکله چې د پلازمېنې « باکترا » نوم پې د زرتشتیانو په سپېڅلي متن اوستا کې یاد شوی دی. چینایي زائر «شوانګ زانګ» ته چې هند ته پې د « شریعت د متن» د لټې په هېلې سفر کړی وو افغانستان تر ټولو لېرې پرته سېمه ښکاري. د هغه د یادښت لېکونو ډېرې برخې د کوشاني بېدیامېشتو له ستروا کې څخه دي، دا هغه ستروا کې ده چې د مسیحیت د پېَېر په پېل کې پې په همدې سېمې د یونانیانو د واک تغر کې ورټول کړ. وروسته د لومړۍ او دوېمې زېږدېزې پېړۍ په ترڅ کې ول چې په سېمې کې بودایي دین خپور شو. شوانګ زانګ ډاډمن وو چې د بګرام د کنشکا په عبادتځي کې چینایي یرغمل ساتل کېدل. کنشکا هغه لومړنی ستر واک وو چې د خپلو اېکېو « مسکوکاتو» پر مخ پې د بودا انځور ضرب کړ. په همدغه بګرام کې ول چې بریتانوي چارلس میسن د ۱۸۳۳ او ۱۸۳۷ زېږدېزو کلونو په اوږدو کې د لرغونتوکو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راټولونګ پېل کړ. د بګرام د لرغونتوکو راټولونه میسن ته د بل زړور ګام د اوچتولو په بلې وینا د هډې ستوپو ته د رسېدا سرچېنه وه؛ میسن انګېرله چې دا به د لرغونشاهانو داسې یوه هډ - اپره وي چې له منځه به یې د لرغونو پېرونو د یادونو تر خاورو لاندې پټې نښې سرونه را پورته کړي.

د افغانستان د لرغونپېژندنې لمنه په هغو لرغونپانګو ځانګړتیا مومی چې د دغه هېواد د لرغوني تأریخ پاڼې روښانوي. د موندل شویو لرغونتوکو هره برخه، د «اکسوس» له پانګې نېولې (چې په ۱۸۸۰ ز کال کې نړۍ - والو ته ور وپېژندل شوه او یوه برخه یې اوس د بریتانیا په لرغونتون کې شته) بیا د «میر زکې» تر پانګې پورې خپله ځانګړې ځانګړتیا لري ؛ ورستنۍ پانګه په تېرو وروستېو وختو کې له خاورو لاندې را ووتله او ګومان کېږي چې لویه برخه یې په جاپان کې ساتل کېږي.

د «بیا موندل شویو پانګو» د نندارتون بنسټېزه سکالو د افغانستان د ملي لرغونتون لاسته راوړنې او را ټولونې دي. په دې کې د لرغونپېژندنې څلور سېمې په ځانګړې توګې تر پام لاندې نېول شوي دي : فلول، آی خانم، طلا تېپه او بګرام، چې هره یوه سېمه په تفصیل تشریح شوې ده. نندارتون نه یوازې د خلکو پام په افغانستان کې د لرغونپېژندنې د کېندنو لاسته راوړنو ته را اړوي بلکه د دغه هېواد د لرغوني تأریخ ژورې جړې هم نندارې ته وړاندې کوي. نندارتون دغه جړې ، له ډېرو لرغونو مهالونو نېولې بیا د کوشانانیانو د پېر تر پېله نندارې ته وړاندې کوي؛ دا هغه پېر دی چې اوسنی افغانستان د بېدیانېو د همدې ستر واکۍ په زړه کې پروت وو او لمنه یې د هند له شماله نېولې تر منځنۍ آسیا پورې غځېدله.

زموږ تر شننې لاندې دا « بیا موندل شوې پانګه » چې په زړه کې د سېمه یېزې افغان واکمنۍ بډاینه رانغاړي او پر خپلې ګرد چاپېرې نړۍ باندې د خپلې ځلا وړانګې شېندې، د تأریخ د « بیاموندل شوې حافظې » هغه اړخ هم روښانوي چې افغانان کولای شي د لسېزو لسېزو جګړو د هېندارې په یادونو کې خپل ځانونه وګوري او خپلې پېژند - جړې په کښې ومومي. د ملي لرغونتون په بنسټ کې دغه پانګې په حقیقت کې هغو ستنوته ورته دي چې بیا ودانونه یې اوس نوې تر لاس لاندې نېول شوې ده، داسې یو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لرغونتون چې نه یوازې پرخپل تأریخ او دودنو به وویاړي، بلکه را تلونکو کېندنو، څېړنو او پلټنو ته به هم سترګه په لار وي او د تأریخ هغه پاڼې به روښانه کړي چې موږ لا تراوسه په ډېر زیار او خوارۍ یوازې د هغه یوه وَړه برخه پېژندلې ده. په دغو څېړنو اوپلټونو باندې په اوسمهال کې په افغانستان کې د فرانسې د لرغونپېژندنې ډله (ډافا) او د افغان لرغونپېژندنې انستیتوت په نه ستړې کېدونکي زیار بوخت دي.

د فلول د غونډۍ پانګه د اکسوس او میرزکې د پانګو په څېر ناڅاپه وموندل شوه؛ د فلول پانګه د نورو دواړو پانګو خلاف ، زښته پخوانۍ او د لرغوني تأریخ پر ژور اړخ باندې ډه ډه لګوي. د فلول پانګه په څرګنده د باختري تمدن (د زېږدېزې پېړۍ له پېلې څه ناڅه د ۲۰۰۰ مخکې کلونو) استازیتوب کوي. د فلول غونډۍ د ، « لرغوني آریانا - ژ» ، ایرن د لوړې سطحې په ختېځې څنډې کې په افغانستان کې پرته ده او ور څخه داسې هنري لرغونتوکي تر لاسه شوي چې له سېمه ېېزو دودنو څخه په الهام د ژویو په انځورنو پسولل شوي دي. د فلول د سرو زرو کونډالي[1] یو ښکلی او ځانګړی هنري انځورېز سبک نندارې ته وړاندې کوي او په خپل وار د منځني ختېځ او بلوڅستان یا د سندهه د تمدن ترمنځ په راکړو ورکړو کښې د باختر پربنسټېزې ونډې باندې ګوته ږدي.

ډېره شوني ښکاري چې د جلګې په څنډې کې د پراته آی خانم ښار بنسټ دې د ستر الکساندر په لاس اېښودل شوی وي. د دغه ښار موقعیت په خپله څرګندوي چې باختر د هلنیستي متمدن ښارېز ژوند تر ټولو لېرې سرحدي ښار وو. دغه ښار پر هغې هک پک کوونکې ستر واکۍ شاهدي ورکوي چې د هلنیستي تمدن له لمنې څخه لېرې ورغېد او بیا وځلېد، داسې رغېدنه او ځلېدنه، چې د لرغونو مهالونو لېکوالانو په خپلو لېکنو کې په څو څو ځله ورڅخه د زرو ښارونو په نامه یادونه کړې ده. د څارنې او غوړېدنې د لوړ برج په توګې د آسیا په زړه کې پروت آی خانم ښار د خپل جغرافیوي موقعیت له کبله د

[1]- ګلدانونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هلنیسم د تمدن د لمنې وروستی ختېځه اډه ده. سره له دې چې یوناني ستر واکانو د خپل سلف پخوانیو فارسیانو په څېر د خپلې ستر واکۍ د لمنې پراخېدنې او سوبو ته د جلګو په لمنو کې د پای ټکی کښېښود خو ونډه یې پر منځنۍ آسیا باندې تلپاتې پرېوتله، دا داسې یو ځای وو چې د ښېرازې او پرمختللې ستر واکۍ بنسټ په کښې کښېښودل شو. ګومان کېږي چې د هندوکش په سوېل کې دغه ستر واکي د تأریخ او هنر د غوړیدنې زړه وو ؛ که داسې نه وي نو څنګه به د « یونان - بودایي » یا « افغان - یوناني » هنري ښوونځیو سبکونه چې په دې وروستیو کې د کابل او د هډې په کېندنوکې ترلاسه شوي توضیح کړو؟ دغې نندارې ته له آی خانم څخه غوره شوي لرغونتوکي سل په سلو کې هلنیستي دي ؛ په نورو لرغونتوکو کې کولای شو له ختېځو یا باختري هنري دودونو سره ګډ د هلینیسم یو ډول څنګ تر څنګوالی او ورته والی ووینو[2]. د آی خانم له پانګې څخه د سرو زرو تر لاسه شوې[3] سلۍ [4]، د ګومارل شویو یوناني سرتېرو د شتمنۍ او د هغوی د ایکېو یادونه راتاندوي. همدا شان دغه لرغونتوکي د هغه بې ساري تأریخ او « سرګذشت » یوه برخه ده چې ښايي ډافا یی د افغانستان د کورنۍ جګړې له پېله مخکې خپله تر ټولو لویه کېندنه او پلټنه وبولي، دا هغه کېندنې دي چې « دانیل شلومبرژه» د افغانستان د پاچا په غوښتنې تر لاس لاندې ونېولې.

د طلا تیپې د پانګې موندنه تر ټولو وروستۍ موندنه وه چې د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر په مېاشت کې د شوروي له تېري مخکې او تر هغه راوروستو کلونو کې ترلاسه شوه. دغه پانګه په خپل زړه کې د بېدیا مېشتو کډوالو په قبرونو کې ښخې شوې ډالۍ نغښتې لري چې نېټه یې کولای شو د مسیحیت د پَېر له پېله را په دېخوا وټاکو. په طلا تیپې کې شپږ قبرونه دي چې هېڅکله ورته لاس نه وو رسېدلی، د طلا تیپې لرغونتوکي د هغو کسانو بې

---

[2]- (وګورئ : هغه لوحه چې سیبېل ښیي؛ کتلاګ، ۲۳)

[3]- (وګورئ : کتلاګ، ۸-۵)

[4]- سلۍ - میله، میل، لوله - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ساري بډاېـنې او شتمني تـه ګـوتـه نـېـسي چـې له شک پـرتـه د کډوالـو شهزادګان او مشران دي ، دوی غـوښتـل له خـپـلې مړينې سـره جوخت خـپـل سـره زر هـم له ځان سـره د مرګ نړۍ تـه يـوسي. د سـرو زرو تـوکـي چـې پـه قيمتي کـاڼو پوښل شـوي د هـغـه وخت پـرهنري نـوښت او پوهي د منښت ګـوتـه ږدي، ددغـو تـوکـو تـر څنګ د څـو پـه لاس جوړو يـوناني، رومي، هنـدي اوچينايي تـوکـو شتـون څـرګنـدوي چـې پـه قبـرونـو کـې مړو کسانـو د خـپـل ژونـد پـه کلـونـو کـې د ښارېـز تـمـدن له پَخو استـازو سـره راکـړه ورکـړه درلـودله. ټـول پـه لاس جوړ تـوکـي مـوږ دي تـه رابـولي چـې دا شهزادګان او مشران «نامـتـمـدنـه» و نـه بـولـو. «طلاتـيـپـه» بـه د خـپـل نامه د معنی له اړخه دا وړتيا ولـري چـې (د سـرو زرو غـونډۍ) پـه نامه وبلل شـي خو تـر دغې وړتيا پورتـه هـغـه ونډه د پاملـرنې وړ ده چـې طلا تـيـپـه ېې د افـغـانـسـتـان د تـأريـخ پـه پـېـژنـدنې کـې زمـوږ د پوهاوي پـه لا پـراختيا کـې لـري. يـوناني باختـر، د زېـږدېـزې پـېـړۍ له پـېـله څه نا څه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په لرغونو مهالونو کې د افغانستان لا پراخه لمن

۱۵۰ کاله مخکې د سایتي یا «یوژي» بېدیانیو د زور زیاتي او ګواښ له کبله د هندوکش د شمالي ټکي له نقشې څخه په بشپړ ډول ورک شو. د شمال له لوري د قبایلو د راکټېدلو او د کډه کېدنګ د لړۍ په پایله کې ول چې د کوشاني ستروا کې (له لومړۍ تر درېمې زېږدېزې پېړۍ پورې) جوړه شوه. ان که په علمي کړیو کې د طلا تیپې د شهزادګانو او مشرانو د قوم د جرړو موندنه د خبرو اترو یوه برخه هم وګرځي، خو د طلا تیپې پانګه یوازې په خپله دا جوتوي چې د هغه مهال افغانستان، د جلګو او پلنو ورشوګانو د لارو په تقاطع کې د څلور لارې درېځ درلود، داسې یوه څلور لارې چې سرونه یې د یورشیا (اورپا - آسیا) د کریمېې له چرسونېزوس او تور سمندرګي څخه پېلېدل او بل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سر يې د کوريا تر ټاپو وزمې پورې رسېده. د طلا تيپې په قبرونو کې موندل شوي سره زر او ګاڼې دواړه زموږ په زړونو کې د روسېې د سوېل په اوکرائين کې د سايتي له «کورګنونو» (د قبرونو پرمخ خاورينو غونډېو) څخه د موندل شويو سرو زرو د يادونو په را ژوندي کولو خپل تړاو هم د جلګو او هم د دغه ايراني قوم بېدياني فرهنګ ته نېږدي کوي. په کورياي هنر سمبال موندل شوی تاج[5] ، خپل تړاو د «درېو پاچاهيو» له پېر سره څرګندوي (چې نېټه يې له لومړۍ تر اوومې پېړۍ پورې رسېږي). ښايي داخبره ځينو ته هک پک کوونکې وي، مګر نه بايد هک پک کوونکې وي ځکه کورياي ژبه کټ مټ د جلګو مېشتو پخوانيو وګړو د ژبو له کورنۍ سره تړلې ده لکه د مجارستانيانو، تورکانو او مغلانو ژبو ته ورته د اورال - التايي ژبه.

د فلول غونډۍ ، آی خانم او طلا تيپه درېواړه د افغانستان پر هغه زښت لرغوني تأريخ رونا اچوي چې په کښې د هندوکش په شمال کې د فرهنګ، واک او ځواک مرکزونه پراته ول. د بګرام پانګه په هغه تأريخي پړاو پورې اړه لري چې د کوشاني کورنۍ له رامنځ ته کېدو سره سم د واک او ځواک مرکز سوېل لوري د کابل شا او خوا ته را ولېږدول شو. هرمائيوس د کابل د سېمې وروستني هندو - يوناني پاچا وو چې د واکمنۍ د ټغر لمنه يې ښايي په ۳۰ زېږدېز کال کې د بېديا مېشتو قومونو د يرغل له کبله د تأريخ په پاڼو کې ټوله شوې وي. د بګرام يا د لرغوني قفقاز د الکسندرېې په کېندنو کې هغه پانګه چې په دوه وو مُهرشويو کوټو کې موندل شوې په خپله د کوشاني سوبمنو د ځواک او پياوړتيا څرګندونه کوي. د پانګې د شتون خبره په ۱۹۳۷-۱۹۳۹ زو کلونو کې د ډافا د کېندنو په لړ کې د کاپيسي په سېمې کې چې پخوا د کاپيسا پلازمېنه بلل کېدله څرګنده شوه. د دغې پانګې يوه برخه د کابل په ملي لرغونتون او بله برخه يې د پاريس د ګيمي په لرغونتون کې ده.

د دغې پانګې تر ټولو نامتو لرغونتوکي : له هنده راوړل شوي عاج - توکي دي ؛همدا شان د ښېښه يي آثارو ترڅنګ له چينايي لاکه جوړې شوې ښېښه يي کاسې ، برنجي او ګچي پژي هم شته چې د سړي زړه کې د الکسندرېې (مصر)

---

[5]- (کتلاګ، ۱۳۴)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او ختیځ روم تر منځ د ګڼ څانګېزې ځالګۍ د پراخو راکړو ورکړو یاد ژوندۍ کوي. که څه هم په ټکسیلا کې موندل شوې برونزې پژي زموږ په ذهن کې د هغو پژیو او نقشونو تړاو او نېږدې والي را کاږي چې (د اوکرائین د کریمې په ټاپو وزمې کې) د چرسونېزوس له کېندنو څخه ترلاسه شوي دي، مګر د بګرام د پانګې ښېښه یې توکي چې په خپلې ډلې کښې زښت لرغوني دي ، د خپلې صناعتي پېچلتیا او زړه راښکونې هک پکونکې ښکلا له کبله له ډېرېو اړخونو په لاس جوړو یوناني او رومي توکو ته ورته دي. هغه کسان چې له یوناني، هندي او رومي لرغونتوکو سره مېنه لري هرو مرو دې د بګرام له آثارو څخه لېدنه وکړی. د یونان - رومي هنر ځلا د هغې ښېښه یې کونډالې پرمخ بریښي چې د الکسندرېې د فاروز پژي پې لري؛ تر هغه ځایه چې موږ پوهېږو د دغه یاد ګار یوازینی درې څنډېزه انځور دی چې په خپل وخت کې د یونان - رومي نړۍ یو له اوو ۷ عجایبو څخه ګڼل کېده.

د بګرام په کوډو ډک تأریخ، په پېچلو اسرارو ډک دی. د کوشاني د ستر واکۍ او هغې ته د ورځېرمو تمدنونو په اړه زموږ پوهه له ډېرو تشو سره مل ده چې ډېرو زیاتو څېړنو ته اړتیا لرو. یوناني، رومي او چینایي په لاس جوړ توکي له شک پرته د مسیحیت د مهال پېل ته ورګرځي خو له عاجه د جوړو شویو توکو د مهالنې ټاکنه لا تر اوسه هم د خبرو اترو وړده او ان دا چې څرګنده نه ده چې هغې ته د «پانګې» ویل هم پرځای ده که نه، ځکه دغه نندارتون په خپلې تومنې کې نه یوازې پانګه نندارې ته وړاندې کوي بلکه له «بیا موندل شویو پانګو» سره د هغې تړاو هم روښانوی. د یادو په لاس جوړو توکو مهالنۍ نېټه ۷۰ کاله وړاندې ټاکل شوې وه خو نن او لا تر اوسه ورته له داسې اړخه ګورو چې د تېرو ۷۰ کالو له ټاکل شوې نېټې څخه بشپړ توپېر لري. نندارتون به موږ ته دا شېبه هم په لاس راکړي چې د کابل د ملي لرغونتون دالانونو ته د پانګې له بېرته ستنېدا مخکې ، په نېږدې راتلونکې کې له تخنیکي اړخه پاکه شي.

د فلول غونډۍ، آی خانم، طلا تیپه او بګرام درېواړه په خپلو اوږو د افغانستان د تأریخ په ګرځولو غواړي د هغه مهال د ښېرازۍ او د سمسورتیا د بې ساري کالبد په لرغونواله کې یوه نوې روح پو کړي. په بشپړ ډاډ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ویلای شو چې د دغو سمېو موندنې به د نویو او نورو موندنو لپاره د روڼا څرک وي، داسې موندنې چې د کابل په لرغونتون کې ځانګړې ځایونه هغوی ته سترګې په لاره دي. دغه موندنې د باختر د تمدن د ډېرو لېرو سېمو د تمدن څرګندویه دي او په منځنۍ آسیا کې د هلنیسم د اغېز د انځورونو په رانغاړلو زموږ غوږونو ته د جلګو د تالندې او برېښنا د برېښ د ږغ انګازې را رسوي. هغوی لا په هماغو لومړیو وختونو کې پر یو بل خپلې اغېزې شېندلې ؛ شک نه سته چې د غو خپلمنځي اغېز شېندنو او د یو بل منلو دود د لرغوني افغانستان تأریخ ته بڼه ورکړې ده.

د فلول غونډۍ څرګندوي چې افغانستان د لرغوني هند او لرغوني ایرَن ترمنځ خپل درېځ درلود. طلا تیپه څرګندوي چې دغه هېواد له خپلې شمالي څنډې سره په اړیکه کې وو، یعنې هغه څه چې د افغانستان په تأریخ کې په څو څو واره تکراریږي، او دا ځکه چې پر دغه هېواد باندې تورک نژادو سلاطینو او مغولي ستروا کۍ د خپل واک لمنه خپره کړله. سره له دې چې د آسیا په ډېرې لېرې پرتې سېمې کې د آی خانم ښار د الکساندر د لښکرو د راتګ او د هلنیستي تمدن له پېچلو توپېرونو څخه ډک وو خو په خپل وار د خپلو ډېرو ارزښتناکو وندو څرګندونه هم کوي. بګرام موږ ته راښیي چې د ختیځ روم له ستر واکۍ سره دوه اړخیزو اړیکو د نړۍ د دغې سېمې پاېښت، ښېرازۍ او ژوند ته نوې بڼه ورکړه. د کوشانیانو ستروا کې ښه پوهېدله چې دغه څو اړخیز او څو څنډیز اړخونه په څه ډول له یو بل سره ګډ کړي. د کنشکا د واکمنۍ پر مهال د هغه د واک تر ولکې لاندې سېمه د بودا دین ته واوښتله او د یونان - بودایي یا د «ګریکو بودیک» هنري تګلاره پې خپره کړه ؛ دا په خپله د ټولې ختیځې آسیا لپاره یو ځانګړی بنسټ ګڼل کېږي او د یوه ځانګړي نندارتون اړتیا ورته لېدل کېږي.

په بامیانو کې د بودا د پژیو د نړولو تر شالېد، په ۲۰۰۱ ز کال کې «د افغانستان د زرګونو کلونو « د » تأریخ» په نندارتون کې د افغانستان د پراخې پانګې او بډاینې ځلانده څېره لېدل کېدله. د دغه نندارتون د رامنځ ته کولو لپاره له فرانسې، روسېې او د امریکا له متحدو ایالاتو څخه هم یو شمېر کلکسیونونه را ټول شوي ول. په ۲۰۰۶ ز کال کې د کابل د لرغونتون

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان کلکسیون د هغه میراث د برم او نوښت څرګندونه کوله چې یو شمېر بې د کېندنو په لړ کې او یو شمېر یې ناڅاپي موندل شوي دي. دغه ارثیه د آسیا په زړه کې د پراته افغانستان درېځ د بې سارو تمدنونو په منځ کې د یوې څلور لارې په توګې څرګندوي. د دغې ارثیې غبرګه برخه، په ځانګړې توګې د هغې د کیفیت او ماتېدونکي حالت په پام کې نېولو سره باید د راتلونکو نسلونو لپاره خوندي وساتل شي. رښتوني ښکلا کم پیدا او ژر ورکېدونکې ده خو د خپل ځان او د نړۍ د باندني او کورني چاپېریال د خوندیتوب او آرامۍ لپاره اړ یو چې د هغې د موندنې او لټې لپاره مټې راونغاړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان ملي لرغونتون په تېرو دريو لسېزو کې

عمرخان مسعودي

د افغانستان د ملي لرغونتون رئيس

د افغانستان د ملي لرغونتون د جوړولو هڅه اوه اتيا کاله مخکې نېټې يعنې ۱۹۱۹ ز کال ته ور ګرځي چې د هغه وخت د سياسي، فرهنګي او ټولنېز پرمختګ د لړۍ د يوې برخې په جوړلو د افغانستان د تأريخ دغه مهالېزه ځانګړې کوي. د نړۍ په همدغه ټکي کې د لرغوني آريانا له وخته دغه هېواد د نړۍ د ګوټ ګوټ تمدنونو د خپلوني او د اغېزو د خپرونې د يوه منځټکي په توګې چې د « وربېښمو لار» بې له زړه څخه تېرېدله، ډېرستر او ارزښتناک فرهنګي مرکزونه له يو بل سره تړلي دي. لرغوني آريانا يعنې افغانستان د تأريخ په اوږدو کې د خپل سوق الجيشي موقعيت له کبله ستره تاريخي ونډه لوبولې ده. ډول ډول هنري سبکونو چې زموږ د پرګنو د رېښتونولۍ او آر- والي څرګندونه کوي په همدې سېمې کې په دې ډول پرمختګ کړی چې د ملي هنرونو له بېلګو سره په همغږۍ کې يوناني، رومي، هندي او چينايي باندني هنري سبکونه بې په ځلانده ډول له يو بل سره تړلي او اخښلي دي. د همدغو هنري توکو او سبکونو اخښنګ دی چې لوېدېځ څېړونکي بې له څو لسېزو را په دې خوا په ختېځو هېوادونو کې په ځانګړي ډول په افغانستان کې چې لمن بې د تأريخي آثاور له اړخه ډکه او بډايه ده، د اروپائيانو او يونانيانو د اغېزو د خپرېدنې په اړه د يوې مرکزي څېړنې او پلټنې شپول ته راهڅولي دي. له ۱۹۲۲ ز کال را په دې خوا د افغان او باندنېو لرغونپوهانو د کېندنو پاېلې د دې لامل شوې چې د افغانستان ملي لرغونتون د افغانستان د ستر فرهنګي پانګو د ساتنې په يوه خوندي ټکي واوړي. په دې وروستېو کلونو کې په لرغونتون کې څه نا څه سل زره لرغوني آثار او همدا شان ايتنوګرافيک آثار کې ساتل کېدل چې له اسلامي پېړۍ مخکې آثار دي ؛ لرغونتون د ګڼ شمېر آثارو ټاکل شوي لړ لېکونه د لرغونتونو د بنسټېزې ونډې د بېلګو پر بنسټ چې د تأريخي آثارو ټولونه، ساتنه او نندارې ته وړاندې کونګ بې بنسټېزه دنده ده ، په ميکرو فلمونو کې ثبت کړل. د افغانستان ملي لرغونتون له نېکه مرغه دغه له غښتلي او ګواښه ډکه دنده په ښې بڼې پرمخ بېولې او هر کال د پوهنتون په زرګونو زده کوونکي، استادان، رسمي مېلمانه، سيلانيان او د لرغونتون نور مينه وال له ملي لرغونتون څخه لېدنه کتنه کوي.

په خوا شېنۍ بايد له هغه پېراو څخه هم يادونه وکړو چې دغو تاريخي او فرهنګي ارزښتناکو پانګو په کښې زموږ د ټولنې د اړ و دوړ له کبله تاوانونه ولېدل. د دغو پېښو په ډلې کې کولای شو د ۱۹۷۸ ز کال د غوايي د مېاشتې د اوومې له کودتا وروسته د ملي لرغونتون د آثارو له لېږدونې څخه يادونه وکړو. د وخت چارواکو د ۱۹۷۹ ز کال د اپريل د مېاشتې په ۱۷ ورځ په بېړنۍ او ناپازوالي توګې د ملي لرغونتون آثار، علمي او تخنيکي اصولو ته په نه پاملرنې پرته له دې چې لرغونتوکي بسته بندي کړي په وزيراکبر خانه مېښې کې د سردار محمد نعيم خان کورته و لېږدول. د لېږدونې دغو عملياتو پنځه وېشت ورځې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ونېولي ، لرغونتوکي دلته تر يوه کاله پوري د يو بل پرمخ باندې کواړې پراته ول. له نېکه مرغه دغه آثار مات نه شول او نه ورته کوم تاوان ورسېد خو د نندارې لپاره ښېښه پې ډهريو[6] ، لرګينو او اوسپنېزو الماريو د موقعيت د نامناسب والي، د باران او وارو له کبله ډېر تاوانونه ولېدل. وروسته پرېکړه وشوه چې لرغونتوکي دې د بيا رغاولو او جوړولو بنسټېزې سېمې ته چې په دارالامان کې ده و لېږدول شي. د ملي لرغونتون، د لرغونپوهنې د مرکزي انستيتيوت او د نورو پوهانو او مخورو د مټ او خولو تويولو له برکته دغه لرغونتون يو نېم کال وروسته د خپلې پخوانۍ بڼې په لرلو يو ځل بيا پرانېستل شو. په هغه وخت کې پرافغانستان باندې د شوروي اتحاد يرغل د سياسي اړ ودوړ لامل شو، د هېواد په پرګنېز پاڅون کې څه د باندې دوه وو ميليونو هېوادوالو ځانونه افغانستان ته الوتيا کړل ؛ د هېواد اقتصادي بنسټونه ونړېدل او د فرهنګي بنسټونو بې ثباتي رامنځ ته شوه.

د هډې د لرغونتون ودانۍ چې د ننګرهار د ختېځ په اته کيلومتري واټن کې ځای پر ځای وه د هېواد يو تر ټولو ښکلی لرغونتون وو، دا لرغونتون په ۱۹۸۱ ز کال کې د جګړې د حالاتو له کبله وسوځول شو او په بشپړ ډول لوټ شو. دغه تأريخي او فرهنګي ضايعه هېڅکله نه شي جبرانېدلای. د هډې د لرغونپېژندنې سېمه چې د افغان لرغونپوهانو په مټ په خپلواکه ډول تر څېړنې، کېندنې او پلټنې لاندې نېول شوې وه له ډول ډول آثارو څخه ډکه وه ، د هډې لرغونتوکي چې د ننګرهار په سراج العمارة کې را ټول شوې ول له يوې مخې لوټ او د تل لپاره ورک شول. په ۱۹۸۸ ز کال کې کله چې د کابل په ښار کې ټيکاو او امنيتي حالاتو وېرونکې بڼه غوره کړه، د ملي لرغونتون رياست د اطلاعاتو او کلتور د وزارت او د امنيتي ادارو په همغږۍ د وخت هېوادني - مشر ته وړاندېز وکړ چې د لرغونتون يو شمېر توکي بايد خوندي او ډاډمن ځای ته و لېږدول شي. له نېکه مرغه وړاندېز ومنل شو او د کلکسيون ځېنې آثار لکه د بګرام، آی خانم، هډې، کهنه مسجد، کمه دکه او د لوېدېز باختر د سرو زرو د پانګې آثار چې په هغو کې د بېلابېلو پړاونو ګڼ شمېر د سرو زرو ايکی وې د يوې ځانګړې ډلې له خوا چې دغه کار ته ځانګړې شوې وه مرکزي بانک (د هېواد - مشرۍ ماڼۍ) ته ولېږدول شول. همدې ته ورته د فندقستان يا باميانو د سېمې يو شمېر آثار د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير کور ته ولېږدول شول. د دغو لېږدونو لامل د دې منطق او پوهې پر ستنې هم ولاړ وو چې که په يوې سېمې کې کومه ستونزه رامنځ ته شي لږ تر لږه دوېمه اودرېمه ټولګه به خوندي پاتې شي. دغه کار ښې پايلې رامنځ ته کړې. د کورنېو جګړو په ترڅ کې په دارالامان کې د ملي لرغونتون آثارو د هغو آثارو په پرتلې ډېر سپکاوي او تاوانونه ولېدل چې د اطلاعات او کلتور د وزير کور او د هېواد - مشرۍ د ماڼۍ مرکزي بانک ته لېږدول شوي ول. له نېکه مرغه نوموړي آثار لا تر اوسه خوندي دي. ډېرې هڅې وشوې چې د دغو کلونو په اوږدو کې هېڅ څوک په دې پوه نه شي چې ګڼې دغه آثار له لرغونتون څخه دباندې اېستل شوي دي. پرته له هغې دا وېره وه چې ياد آثار به د ورکېدنې د لومو الونيا شي. خو دغه خبره هماغسې پټه او په ښه توګه وساتل شوه. د دغو علمياتو له

[6]- صندوقونو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

برکته ول چې زموږ د هېواد د تأریخ یوه برخه خوندي پاتې شوه.

پرهېواد باندې د مرییتوب د تپل شوي جغ له ورکېدا وروسته د یوې ځلاندې راتلونکې لپاره د هېلو کړکۍ پرانېستل شوه خو په خواشېنۍ چې دغه هېله د ځلوبې (سُراب) په شان یو لنډ مهالی څرک وو. هغه جګړې چې زموږ پر هېواد باندې وتپل شوې په حقیقت کې د هېواد له ځمکنېو کرښو دباندې د ځان غوښتنې او ځان منني په کګړیو کې د یوه ککړ ماکیاولېزم او له یو بل سره د پېیلې او پېچلې ځالګۍ په توګې زموږ د هېواد د وګړو نوې غوړېدلې هېلې د جګړو په سرو لمبو کې لاهو کړې ، د بسیا ژوند د هېلو نېم ځلانده څرک چې نوی ځلېدلی وو خپل مخ پټ کړ. وسله والو تنظیمونو چې د ورور وژنې په مورچلونو کې بې ځانونه پټ کړي ول په میلونهاوو ګولۍ، په زرګونو توغندي او هاوانونه بې په ښار او ښاریانو ووَرَول او د خلکو ژوند بې په یوه وېرونکي جهنم بدل کړ. ټولې صنایع، د تمدن آثار، ټولنېز تجهېزات او خصوصي شتمني لوټ او تالا، له خاورو سره یو او وسوځول شوې. په لسهاوو زره افغان کورنۍ له خپلو کورونو خو له برمه ډکو جونګړو څخه دې ته اړ شوې چې د دوست او دښمن لمنو ته ور ودانګې او پردیو هېوادونو ته په کډوالۍ اړ شوې.

د ۱۳۷۱ ل کال د مرغومی د مېاشتې په ۲مه شپه د ملي لرغونتون دوه پاخه آثار چې د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ننوتلو د دالان په پورتني پوړ کې د نندارې لپاره اېښودل شوې ول غلا شول. يو له دغو آثارو څخه په شُتُرَک کې موندل شوی په دوېمې او درېمې زېږدېزې پېړۍ پورې اړوند يوه پاڼېزه (متورقه) ډبره وه چې د کسيپاپا د دريو ورونو په لاس د بودا د نمنځنی انځورېزه نندارہ ېې څرګندوله؛ دغه اثر په پېښور کې يوه نېک چارې جاپاني و پېرود او اوس په جاپان کې ساتل کېږي چې په يوه وَرند وخت کې به بېرته افغانستان ته را ستون شي. بل اثر د ۸۳/۵ سانتي مترو په لوړوالي په شُتُرَک کې موندل شوی د (ديپانکا راجا تاکا) د انځورګري يو کېندل شوی اثر دی چې مهالنی نېټه ېې د دوېمې او درېمې پېړۍ تر منځ اټکل شوې ده. دولتي چارواکو، پازوالو له اره دغو پېښو ته پام ونه کړ ؛ په دې بڼې نورو شوکو، غلا او لوټ او تالا ته ېې لاره پرانېستې پرېښودله. څو ورځې وروسته د ملي لرغونتون د لوی زيرمتون، په ځانګړی ډول د هدې د زېرمتون د کړکېو هېندارې او پَنجرې ماتې شوې ؛ غټه شوکه او لوټماري رامنځ ته شوه. د يادوني وړ ده چې د ۱۹۹۲ ز کال په پای کې د ملي لرغونتون د کار کوونکو اړيکه له ملي لرغونتون څخه د دارالامان پر سړک باندې د ټيکاو د نه شتون له کبله په بشپړ ډول وشلېدله. په حقيقت کې دغه کارکوونکي کار ته د تګ راتګ په وخت کې د ګڼ شمېر پلمو او انګېزو له کبله ونېول، ووهل، وټکول او ان ووژل شول.

د وسله والو د نښتو په اخ و ډب کې وسله والو ډلو د ملي لرغونتون له ودانۍ څخه د يوه پوځي مورچل په توګې کار واخېست چې له کبله ېې د ۱۹۹۴ ز کال د مارچ د مېاشتې په ۱۲ نېټې پر ودانۍ توغندي ومښتل او اور ېې واخېست. د ۱۹۹۴ ز کال د مې د مېاشتې په ۱۳ د بې بې سي راډيو خبر ورکړ چې : «افغانستان خپل بچيان خاورو ته وسپارل خو نه بايد خپل فرهنګ خاورو ته وسپاري ». دغه خبر په ملګرو ملتونو کې مېشتې فرهنګي کړۍ او همدا شان نورې نړۍ -والي او ملي ټولنې له ځايه وخوځولې او په ټېنګې انديښنې کې ېې واچولې او په نړۍ - والي کچې ېې د ګواښ او خطر زنګ په ګړنګهار راووست. د يوه هېواد ميراث، زما موخه د افغانستان د ملي لرغونتون آثار دي، چې په نړۍ کې ډېر مهم او له ارزښته ډک آثار دي او په حقيقت کې د هماغه هېواد د ملي پېژند، تأريخ او ټولنېز اعتبار څرګندوي او د تأريخ يوه بېلګه وي تل بايد خوندي وي او ملاتړ ېې بايد وشي او د نړۍ - والو قوانينو، لېکنو او متنونو پرېنښت هېڅکله ور باندې يرغل نه شي کېدای. نړۍ - وال تړون حکم کوي چې تأريخي آثارو ته تاوان رسول، له خوندي ځايه د هغوی بې ځايه کول منع دي. د ۱۹۹۴ ز کال د نوامبر په ۲۹مه د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي استازي ښاغلي « سوريريوس موسوريس » کابل ته سفر وکړ او له هغو وسلوالو بولندويانو سره ېې ولېدل چې اړوند تنظيم يې د لرغونتون سېمه په خپلې ولکې کې درلودله. نوموړي، له بولندويانو څخه وغوښتل چې د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي استازي ته دې اجازه ورکړي چې د لوټ او تالا شوي لرغونتون د بيا رغاونې پروژه تر لاس لاندې ونېسي. له لېدنې کتنې وروسته د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي استازي، يو شمېر خبر يالانو، ديپلوماتانو، د سره صليب او د ملګرو ملتونو د ادارو يو شمېر غړو اجازه ترلاسه کړه چې د لرغونتون له يو شمېر ځانګو څخه لېدنه وکړي.

د ښاغلي « سوريريوس موسوريس » د لېدنې پر مهال ولېدل شول چې د ملي لرغونتون له

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آثـارو څـخـه يـوه لـويه برخه پـه ځـانـګـړي ډول د څلـوېـښتـو زرو ايکـېـو يـوه ټـولګه چـې لـه بـېـلابـېـلـو تأريخي پړاونـو او مهالـېـزو سـره پې تـړاو درلـود پـه ډېـرې شدلتيـا او وحشت لـوټ شـوې وه. هـمدا رنګه د غـولي د فـرش يـوه لـويه برخه چـې پـه لـرغـونـتـون کـې سـاتـل کـېـده او لـه هغې ډلې څـخـه د نـنـدارتـونـونـو پـه دالانـونـو کـې ښکلي افغاني غالۍ وې چـې د لـرغـونـتـون دالانـونـه پې ښکلي کـړي ول هـم لـوټ شـوې ول. د نـنـدارتـون د ښـېـښو د ډهـرېـو لـه يـوې برخې څـخـه چـې ځـېـنـې پې پـه اروپا کـې جـوړ او د يـونسکـو لـه لارې ډالۍ شـوې ول د اور پـه لمبو کـې لـولېـه شـوې وه. ښاغلی « سوريريـوس مـوسوريس » چـې د خپلې لـېـدنې پر مهال ډېـرخـواشـېـنی شـوی وو وويل: « لـرغـونـتـون د تأريخي يـادونـو يـوه تر ټـولـو سـتـره سـېـمه او ځـای دی. لـرغـونـتـون د يـوه ملت پـېـژانـد او هويت څرګندوي او پـه لـرغـونـتـون پـورې اړونـد ان وړوکی شی نـه بـايـد بې ځـايه او يـا تاوان ووينې. د لـرغـونـتـون د آثـارو بې ځـايه کـول د يـوه هـېـواد پر روح او معنـويـاتـو بانـدې د تـېـرې معنی ښنـدې او وېجاړونګ پې لـوی ناورين او بـېـرته نـه را ګـرځـېـدونکی تاوان رامنځ ته کـوي چـې لـوټ، شـوکـه او تالا پې د هـېـواد وګړو ته يـوه نـه بخښل کـېـدونکـې درغلنـه او خيـانت ګڼل کـېـږي. » د ملګـرو ملتـونـو د عمـومي سـرمنشي ځـانـګـړي استازي ځـای پر ځـای بـېـړنی پرېکـړه وکـړه چـې لـه لـرغـونـتـون سـره د مـرستي لاس وغـځـوي او پـه کابل کـې د ملګـرو ملتـونـو د يـوازېنې دفتر، د ملګـرو ملتـونـو د بشري مـرستـو د سمبالتيـا (يـونـوکا) د دفتر لـه لارې، چـې لا تر هـغـه وخته پې پـه کابل کـې کار کاوه (د ملګـرو ملتـونـو نـور ټـول دفترونـه اسلام آباد ته راوړل شـوي ول)، لـرغـونـتـون لـه دغـه کـړېـدلي حالته دبانـدې را وباسي. لـه دې کبلـه پې د لـرغـونـتـون د زېـرمتـونـونـو لپاره د اوسپنـېـزو دروازو او جستي چت د جـوړولـو پـه مـوخي يـوه کميټه جـوړه او پـه کار واچولـه، د زېرمتـونـونـو دروازې او پنجرې پـه پخـو خښتـو سبمال او وتـړل شـوې تر څـو لږ تر لږه د تـوغنـديو او ګولـېـو د تـېـرېـدنې مخه ونـېـولای شي. د ۱۹۹۴ز کال د ډېـر سخت ژمي پـه لړ کـې د لـرغـونـتـون چتـونـه د اضافی ودانـېـزو مـوادو پـه لـرلـو سـره سـره اور واخـېـست او ونړېدل. د باران، لـوخړو، ځکک او واورو د مخنـېـوی لپاره لـه سـېـمه اېـزو ودانـېـزو مـوادو لکـه وښو او ختې څـخـه کار واخـېـستـل شـو. پـه هـغـه وخت کـې دغـه ګام لـږ تـر لـږه يـوه ښه هڅـه وبلل شـوه. پـه هـماغه کال کـې (د افـغـانـسـتـان د فـرهنګي آثـارو ټـولنې) د « سپاچ » مؤسسې چـې پـه غير مستقيم ډول پې د يـونسکـو لـه پلـوه بسپنـه تر لاسه کـولـه منځ ته راغلـه او د ډېـر سـاړه ژمي پـه لړ کـې پې يـوه ډلـه وروزلـه چـې د لـرغـونـتـون لـه پـورتني پـوړ څـخـه د خاورو او لـوخړو لـه منځه يـو شمـېـر آثـار پـه علمي او خـونـدي تـوګـې دبانـدې را وباسي. څـه نا څـه دري زره کـلالي لـوښي، د ډبرو او اوسپنې ټـوټې چـې يـو شمـېـر پې تاوان لـېـدلی وو لـه نابودۍ څـخـه وژغـورل او بـېـرته زيرمتـونـونـو ته ولـېـږدول شـول.

يـايد ووايـو چـې د ديـوال پرمخ د انځورګـري يـو شمـېـر آثـارچـې د باختر او غزني پـه سـالـون کـې نـنـدارې ته اېښودل شـوي ول د چت د نړېـدا لـه کبلـه پـه بشپړ ډول وسوځـېـدل. پـه ۱۹۹۶ ز کال کې د وخت د اطلاعاتـو او کلتـور وزير پرېـکـړه وکـړه چـې د مـلـي لـرغـونـتـون پاتې آثـار دې د ښارمـرکـزي ټکي ته را ولـېـږدول شي. د دغـه کار د سـرته رسولـو لپاره دغـه لانـدېـنۍ ډلې يـا کميټې جـوړې شـوې: د ثبت کميټه، د بيـا رغاونې کميټه، د عکس اخـېـسـتـنګ کميټه، د دسته بنـدۍ کميټه، د څار او څـېـړ کميټه، د لـېـږدونې کميټه، اداري کميټه او سـر پرسته کميټه. دغـه شپـېـړ واړه کميټې چـې ټـولې پې د مـلـي لـرغـونـتـون لـه کارکـوونکـو او د لـرغـونپـوهنې د ريـاست او د مـلـي امنيت لـه کارکـوونکـو څـخـه جـوړې وې لـه ډېـرو ربړونـو او خـولـو تـويـونـو وروسته پـه دې وتـوانـېـدلې چـې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دغه دروند کار پېټي په شپږو مېاشتو کې بشپړ کړي. هغوی د ملي لرغونتون په زېرمتونو کې د لاسي څراغ تر رڼا لاندې د دوړو او لوخړو په زړه بوړنونکي هوا کې کار کاوه. د ستړیا آثار د هغوی په مخونو او څېرو کې له ورایه ښکارېدل او ګڼ شمېر یې د خاورو او دوړو پر وړاندې حساسیت موندلی وو او دې ته اړ ول چې خپل مخونه په څادر و پوښي. هغوی ټول ټال دوه اویا تنه ول او وېې کولای شول په زېرمتون کې پاتې آثار په ټاکل شوېو لړ لېکونو کې ولېکي، عکس ورځني واخلي او بیا یې په مناسب ډول وتړي. هغوی د دغې چارې له تر سره کولو وروسته د آثارو یوه برخه کابل هوټل ته یووړه چې له نېکه مرغه تاوان یې ونه لېد. برعکس، د لرغونتون زېرمتونونه په ټولي شډلتیا او وحشت د لوټ او تالا د تور اندو کسانو په منګولو کې ننوتلي او چپاو شوي ول. د پاتې آثارو د لړ لېک لېکلو کار له څو مېاشتني ځنډ وروسته د « سپاچ » د کمیټې په بسپنې له سره پېل او د آثارو یوه برخه د ښار مرکز ته را ولېږدول شوه.

د ملي لرغونتون لمنې ته بل ور پېښ شوی ناورین د ۲۰۰۱ ز کال په پېل کې د طالبانو په لاس د ډېرو ارزښتناکو پژیو ماتونګ او نړونګ وو چې د طالبانو د یوې ځانګړې څارګرې ډلې تر څار لاندې تر سره شو. طالبانو له دوه زرو پېښځه سوو کالو څخه زیات لرغوني راپاتې پژي مات کړل. د ۲۰۰۱ ز کال د مارچ په مېاشت کې د بامیانو بوداګان چې ۵۵ او ۳۸ متره لوړوالی یې درلود په بمونو او چاودېدونکو توکو و نړول شول. دغه فرهنګي ضد کړنه چې د هر پاک وجداني افغان زړه د فرهنګي ناورین په اورونو کې سوځوي داسې یوه نه سکېنده کېدونکی ضایعه یې رامنځ ته کړه چې په کې نه شو کولای د پردیو توطئه ګرو لاسونو د شتون له شته والي څخه ستړګې پټې کړو، داسې یوه توطئه چې موخه یې نه یوازې د پژیو ماتونګ او زموږ د فرهنګ د جړړو له بېخه کښنګ وو بلکه د کابل په ښار او نورو ځایونو کې د نورو سپېڅلو او متبرکه ځایونو کې نړونګ هم وو. هغوی د افغانانو د ملي پټ، برم او ویاړ د ورکېدا لپاره دغه لوټ او تالا تر سره کړه. د هېواد په هرې لرغونې سېمې کې یې د لوټ او تالا په موخې پراخه کېندنې په لاره واچولې. د افغانستان راتلونکی نسل او بشري تأریخ به هېڅکله د پردېو دغه چوپړماري او د داسې ورانکاري و نه بخښي.

د باختر د پانګې په اړه لنډ معلومات

د باختر پانګه د افغانستان په شمال کې د شبرغان په سېمې کې په یوې وچې شاړې بیدیا کې د اور ګروهنو (اور پرستو) د عبادتځې په وېجاړو برخو کې چې په دوېمې مخزېږدېزې زرېزې کې ودان شوی وو، ومونډل شوه. د ۱۹۷۸- ۱۹۷۹ زو کلونو په ژمي کې ول چې د افغانستان او شوروي اتحاد د لرغونپوهانو ګډې سلاکارې ډلې، د ویکټر سریانیدي تر مشرۍ لاندې د طلا تیپې په لرغونې سېمې کې پلټنېز کال پېل کړ: د سرو، سپینو زرو او له عاجه جوړ ۲۱۶۱۸ لرغونتوکي چې په طلا تیپې کې په شپږو قبرونو کې ځای پر ځای ول ومونډل شول. د دغو قبرونو مړي د یوې بډاېې کوچې کورنۍ غړي ول چې د لومړۍ زېږدېزې پېړۍ په پېل کې همدلته خاورو ته سپارل شوي ول. د قبر تابوتونو ډېر ګډوډ جوړښت درلود، د تابوتونو په سرو زرو پوښل شوي پوښونه ډېر ژر له منځه تللي ول خو په تابوتونو کې دننه شیانو تاوان نه وو لېدلی او ډېر ښه کیفیت یې درلود. د بېلګې په توګې د سپینو زرو په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زرهاوو هلالـونـه، د سـرو زرو ځنځيرونـه، يـوه وَړه ونـه چـې پـه مـرغلـرو جړاوول (مـرصع) شـوې وه ، يـو مدال چـې د يـوه افسـانـوي ژوي انځور وربانـدې کـېـنـدل شـوی ، د افـروديت يـو پـژی، د کمـربنـد د ځګک پرمخ د يـوه سړي کـېـنـدل شـوی انځور چـې د دولفين پر شا سپـور دی، يـو وَزر لـرونکـې ښامار، د سـرو زرو يـو تاج، او هـمدا شان رومي، پارتي او يـوناني اپکی. د سـرو زرو لـه ټـولـو تـوکـو څـخـه عکسونـه واخـېـستـل شـول او د شـوروي او افـغـانـسـتـان د سلاکاري ډلې لـه پلـوه پـه لړ لـېـک کـې ولـېـکل شـول او پـه ۱۹۷۹ ز کال کـې د افـغـانـسـتـان د مـلـي لـرغـونـتـون د ريـاست د لـرغـونپـوهني د خدماتـو څانګـې ته پـه کابل کـې وسپارل. د دغې پانګـې د آثـارو يـوه برخه پـه ۱۹۸۰ ز کال کـې پـه مـلـي لـرغـونـتـون کـې نـنـدارې ته وړانـدې شـوه، دغـه آثـار پـه ۱۹۸۵ ز کال کـې د ډېـر ډاډمن خـونـدېـتـوب او سـاتـنـې پـه مـوخې د کـوټې باغ مانۍ ته ولـېـږدول شـول. دغـه آثـار پـه ۱۹۸۸ ز کال کـې د افـغـانـسـتـان بانک پـه ګاو صنـدقونـو کـې خـونـدې او قفل شـول. د دغـو آثـارو يـوه ډېـره وَړه برخه د ۱۹۹۱ ز کال د جـولای پـه مـېـاشت کـې د کـوټې باغ پـه مانۍ کـې د يـوه يـو ورځنې نـنـدارتـون پـه ترڅ کـې نـنـدارې ته وړانـدې شـول. لـه هـغـه وروسته دغـه آثـار د خلکـو لـه سـتـرګو پټ شـول، مګـر د مـرکـزي بانک هـغـه فني، تکـړه او کارپـوه کارکـوونکي د دغـو آثـارو پـه خـونـدې او پټن ځـای خبر ول چـې د وژنـو، وراندېـو، ناورين ، ناتار او د طالبانـو پر مهال د کـورنۍ جګړې پـه وېـنـو ډکـو کلـونـو کـې د مـرکـزي بانک ګاو صنـدقونـو ته د دغـو آثـارو پـه لـېـږدونې کـې ښکـېـل ول. د ۱۹۲۲ ز کال پـه پای کـې يـوې لـوړ پـوړې ډلې او هيئت د صنـدوقونـو د شته والي پـه مـوخې لـه مـرکـزي بانک څـخـه لـېـدنـه وکـړه. ډېـرې ګنګوسې اورېـدل کـېـدې چـې ګڼې دغـه آثـار لـوټ شـوي، يـا پـه تـور بازار کـې خرڅ شـوي او ان دا چـې ګڼې ويلې « ذوب» شـوي ول، خـو چارواکـو ښه وګڼلـه چـې پـه دې اړه چوپـه خـولـه پاتې شي او هـېـڅ و نـه وايي او د پټ راز لـه مخې پرده پـورته نـه کـړي ؛ پـه ۲۰۰۲ ز کال کـې د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت د لـرغـونـتـونـونـو د ريـاست پـه وړانـدېـز يـوه چار واکـې کمېټه مـرکـزي بانک ته لاړه او يـو راپـور ېې ولـېـکـه ؛ کتـونکـې ډلې و منلـه چـې د صنـدقونـو مهرونـه او لاکـونـه نـه ول مات شـوي. د دې کـتـنـې پـه پايلـه کـې وه چـې پـه ۲۰۰۳ ز کال کـې د افـغـانـسـتـان دولت خبرتيـا خـپـره کـړه چـې د طلا تـيـپـې آثـار خـونـدې دي او تاوان ېې نـه دی لـېـدلی. د ۲۰۰۴ ز کال د مارچ پـه مـېـاشت کـې، د مـلـي لـرغـونـتـون د آثـارو د مـوجـودۍ لپاره د يوه نـوملـېـک د جـوړولـو پـه مـوخې د فـرهنګ - اطلاعاتـو او سيـاحت وزارت او د امـريکايي نيشنل جيـوګـرافيک مؤسسې ترمنځ يـو تـړون لاسلـېـک شـو. د ۲۰۰۴ ز کال د اپريل د مـېـاشتې پـه پـېـل کـې د بانك پـه تـلـخـونـو کـې د دغـو پانګو پر ټـولګو بانـدې د نښې اېـښودنې لړۍ پـېـل شـوه او د هر اثر لپاره پـه دَري او انګليسي ژبو د وَړکوټو پاڼـَکـېـو جـوړَونـه تر لاس لانـدې ونـېـول شـوه. پـه بانک کـې د آثـارو د سـاتنې پـه ځـای کـې د ثبتـولـو پـه لـومړۍ ورځ دغـه لانـدېنې کسـان ول :

- ويکـټـر سيريـانيدی (د طلا تـيـپـې د آثـارو مـونـدونکی)

- داکترفـريدرک هيبرت (د امـريکايي نيشنل جيـوګـرافيک د مؤسسې استازی)

- کارلـه ګـريسمن (چـې پـه ۱۹۷۳ ز کال کـې ېې لـه مـلـي لـرغـونـتـون سـره خپل کار پـېـل کـړی وو)

- د دولت لـوړ پـوړي چارواکي او د مـلـي لـرغـونـتـون او د لـرغـونپـوهني د ګومارل شـوېو کمېټـو غړي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د آثـارو د نـوملـېـک جـوړولـو پـه لړۍ کـې، ۲۲۶۰۷ لـرغـونـتـوکي و شمـېـرل شـول چـې ۲۰۵۸۷ يې د طلا تـيـپـي تـوکي ول، پاتې نـور يې لـه ګڼ شمـېـر بـېـلابـېـلـو ټـولګو څـخـه ول لکـه د بګـرام، هـډې، فنـدقستان، د فلـول غـونـډۍ، آی خانم، تپۀ خزانـه، کمه دکـه، کـهنـه مسجد، آق کپرک، سـرخ کـوتـل او هـمدا شان د سـرو او سپينـو زرو د ايکـېـو ټـولګه. پـه دې ډول پـه طلا تـيـپـي کـې د ۲۱۶۱۸ مـونـدل شـويـو اثـارو لـه منځه د هـېـواد - مشرۍ مانۍ ته ۲۰۵۸۷ لـېـږل شـوي آثـار خـونـدي پاتې شـول، نـور آثـار چـې مـرکـزي بانک ته نـه ول وړل شـوي برخلاف لـوټ او تالا شـوي ول. د افـغـانـسـتـان د مـلـي لـرغـونـتـون د آثـارو د نـوم - لـېـکني او ډاټابيس ته د هغـوی د ثبتـولـو کار د مـلـي او بانـدنـېـو کارپـوهانـو پـه مـرستې پر مخ وړل کـېـږي. نيشنل جيـوګـرافيک امـريکايي مؤسسۀ، يـونسکـو، د افـغـانـسـتـان د فـرهنګی ميراثونـو د ساتنې ټـولنـه (سپاچ) د مـلـي لـرغـونـتـون د ريـاست پـه هـمکارۍ د مـلـي لـرغـونـتـون د آثـارو د ټـولګـي کمپـوټـري کـول د خپلـو کارونـو د لـومړيـتـوب پـه سـرلـوحه کـې اېـښودلي او پـه دې اړه نـه ستـړي کـېـدونکـي هلې ځلې کـوي.

د ګـيـمـي د لرغونتون عکاسي

د افـغـانـسـتـان د مـلـي لـرغـونـتـون لنډ تأريخ

پـه ۱۹۱۹ ز کال کـې د حبيب اللـه خان (۱۹۰۱- ۱۹۱۹ ز) لـه پـَـېـر څـخـه د تـوکـو او قلمي آثـارو يـوه وړوکي ټـولګه پـه ميراث پاتې شـوه چـې پـه هغې کـې د آرشيف، مډالـونـه، د کـورنۍ ځـانـګـړي توکي، وسلـه، ميناتـوري ګانې او هـنـري آثـار ول چـې د شاهي کـورنۍ لـه پلـوه را ټـول شـوي ول او د باغ بالا پـه ودانۍ کـې ساتـل کـېـدل. دغـه ټـولګه څـو کالـه وروسته (۱۹۱۹ ـ ۱۹۲۹ز) د ارګ د

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مانۍ یوې وړوکې ودانۍ ته یووړل شوه او په پای کې په ۱۹۳۱ ز کال کې اوسنې ځای دارالامان ته یووړل شوه. د وروستېو لسېزو په ترڅ کې ول چې د ملي لرغونتون ټولګې په افغانستان کې د لرغونپېژندنې په نورو موندنو ګام بډاېې شولې.

د ملي لرغونتون د لومړنۍ ورانۍ او وېجاړۍ لړۍ د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل د مېاشتې له کودتا را وروسته راپېل شوه.

د ملي لرغونتون ټولګې په ۱۹۷۹ ز کال کې د سردار محمد نعیم خان کورته ولېږدول شوې او د لرغونتون ودانۍ د دفاع وزارت ته ورکړل شوه.

په ۱۹۸۰ز کال کې د لرغونتون ټولګې یو ځل بیا دارالامان ته یووړل شوې

په ۱۹۸۹ زکال کې د هېواد - مشر داکټر نجیب الله د لاربښودنې پر بنسټ ملي لرغونتون وتړل شو ، یو شمېر ټولګې د ارګ مانۍ او پاتې پې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د ساتنې لپاره ولېږدول شوې خو یوه زیاته برخه پې په ملي لرغونتون کې پاتې شوه.

د ۱۹۹۲ او ۱۹۹٤ زو کلونو تر منځ د ملي لرغونتون ودانۍ د تنظیمي کورنیو جګړو له کبله ورانه او لرغونتون لوټ او تالا شو.

په ۱۹۹۵ ز کال کې هغه لرغونتوکې چې د لرغونتون په ورانو وېجاړو برخو کې پاتې ول په نوملېک کې ثبت شول.

په ۱۹۹٦ز کال کې د طالبانو له راتګه یوه اونۍ مخکې له ۳۵۰۰ څخه زیات آثار د کابل هوټل ته ولېږدول شول.

په ۱۹۹۷ز کال کې د ملي لرغونتون له تړلو وروسته د کابل په هوټل او د اطلاعاتو او کلتور د وزېر په استوګنځېو کې کوارې شوې آثار لرغونتون ته را ولېږدول شول.

د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۰ زو کلونو ترمنځ د کابل د لرغونتون د آثارو د ثبت لړۍ دوام ومونده.

د ۲۰۰۱ ز کال په پېل کې د بودا پژې و نړول شول ، همدا رنګه په دارالامان کې د ملي لرغونتون په ودانۍ او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې کوارې شوې آثار مات شول.

په ۲۰۰۳ ز کال کې د لرغونتون ودانۍ له سره جوړه شوه. د آثارو د ساتنې لابراتوارونه او د عکاسې څانګې په څه نا څه ډول په وسایلو سمبال او د کار کولو لپاره چمتو شولې.

نن سبا نړۍ - وال او د لرغونتون کارپوهان د ماتو شویو آثارو او د پاتې شویو آثارو په پاکولو او بیا رغاولو بوخت دي. له دې ډلې کولای شو د ګیمي د لرغونتون د مأموریت په لړ کې د کنشکا او د مرنجان د غونډۍ د بودیساتو د پژیو د رغولو له عملیاتو څخه نوم واخلو. د کاشیو د بیا جوړونې د کار لړۍ پېل شوې او لومړنۍ ننداړتون د نورستان آثارو ته ځانګړې شوې دې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان د ملي لرغونتون د آثارو د پېژندني لپاره د نوملېک د رامنځ ته کولو لړۍ

کله چې په ۲۰۰۴ ز کال کې د هېواد -مشرۍ په مانۍ (ارگ) کې د ملي لرغونتون د آثارو لومړنۍ ډهرۍ پرانېستل شوې، د افغانستان د ملي لرغونتون د آثارو د نوملېک جوړولو لپاره يو نوی سيستم په کار ولوېد. د دغې لړۍ د کار اچوونې لپاره د ملي لرغونتون د لرغونپوهنې د انستيتيوت کار پوهان، له هغې ډلې څخه رغنوال (مرمت کاران)، عکاسان او کمپيوتري کار پوهان را ټول شوي ول او د هر اثر لپاره د لرغونتونونو په چارو کې د باندنېو کارپوهانو په مرستې بې په دَري او انگليسي ژبو معلومات راټول او وړوکي پېژند پاڼـَکۍ بې ورته جوړې کړلې.

نوي سيستم به د لرغونتونونو د نړۍ - والو بېلگو اومعيارونو پر بنسټ د لرغونتون له پخوانېو جوړښتونو او سيستمونو څخه د آثارو د ساتنې او خوندي توب لپاره کار واخلي. د لرغونتون د نويو اصولو په رونا کې، هر اثر له پامه تېر شو، کچ ميچ بې ونېول شو او هر يو ځکه ځای په يو ځای عکاسي شو چې وروسته ولېدل شي چې ايا آثار بيا رغاونې ته اړتيا لري که نه. هره پېژند پاڼکۍ د هغه د پازوال له پلوه لاسلېک او هر اثر د خپلې پېژند پاڼکۍ له کاپۍ سره بېرته بسته بندي شو. د افغانستان د ملي لرغونتون د چارو د سمبالښت په تگلارې کې دوه سيستمونه په کار اچول شوي دي : د آثارو د تحويلۍ يا اخېستنې سيستم چې د آثارو د سمې ساتنې لپاره ور څخه کار اخېستل کېږي او د کمپيوټرۍ ثبت سيستم چې په راتلونکي کې څېړونکو ته د ټولگو د څېړنې لپاره لاره پرانېزي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ